## معلولیت او کار

د بېلا بېلو احصاییو له مخې د نړۍ څلورمه برخه انسانان معلولیت لري. دا هیڅکله په دې مانا نه ده چې دوی ناتوان وشمیرل شي، بلکې له دوی څخه زیات شمیر معلولیت لرونکو وګړو د خپل پرله پسې زیار او استعداد پر مټ لوی لوی کارونه کړي او بریالیتوبونه یې ترلاسه کړي دي. یو عالم وایي: دا بیخي مکنه ده چې په دواړو پښو ګوډ معلول د څغاستې اتل شي، خو په دې شرط چې اراده ولري. د بېلګې په ډول؛ بتهوون په غوږونو څه نه اوریدل، خو د موسیقۍ داسې سمفونیګانې او آثار یې وپنځول چې نړۍ یې حیرانه او ګوته په غاښ کړه او د عالمونو په روح او روان یې سلطنت وچلوه، همدا یوکال مخکې د فزیک هغه نامتو عالم او په فزیک کې د نوبل جایزې ګټونکی عالم ستیفن هاوکینګ چې د (۷۰) کلونو په عمر یې له نړۍ څخه سترګې پټې کړې او د غاړې او ملا تیر د معیوبیت له امله یې مخ یو او بل خوا نه شو اړولای، یو لاس یې بیخی کار نه کاوه، د یوویشتمې پیړۍ نامتو ستوری پیژندونکی و.

موږ د ژوند په بېلا بېلو برخو کې نامتو او مخکښ معلولین لرو، چې د اغیزمنې او منظمې رهبرۍ تر څنګ یې د علم او فنونو په مختلفو برخو کې نوښتونه کړي او په نړیواله کچه ځلیدلي دي. مثلن هغه افغانی پیغله چې دواړه لاسونه یې فلج دي، خو د رسامۍ مویک په خوله کې نیسي او داسې انځورګری کوي چې روغ انځورګران ورته هک حیران پاتې دي. له نن څخه پنځه کاله وړاندې د کابل پوهنتون له انجنیرۍ پوهنځي داسې محصل فارغ شو چې دواړه لاسونه یې له مړوند څخه پرې وو، د پښو په ګوتو یې نوټ لیک او فرمولونه حل کول او په بریالۍ توګه یې یاده پوهنځۍ ولوسته. ارواپوهانو دا ثابته کړې ده چې یو شمیر هغه معلولین چې د لاس، پښې یا د وجود بل هر غړي یې له معلولیت سره مخ وي، د فکري او ذهني فوق العاده توانایی او بیساري دقت لرونکی پیېژندل شوي دي، چې د قرانکریم حافظان او قاریان یې ښه بیلګه ده.

نن نه ۲۱ کاله وړاندې په سعودی عربستان کې یو افغان چې په دواړو سترګو معلول و د قرائت په سیالۍ کې لومړۍ جایزه وګټله او د ټول سعودي او اسلامي هیوادونو د ستاینې او تحسین وړ وګرځید. همدا اوس ډیرو هیوادونو کې د اقتصاد څرخونه د معلولینو او معیوبینو تر مدیریت لاندې څرخي. معیوبیت او معلولیت څه دي؟ معلولیت بشپړه ناتواني نه؟ بلکې محدودیت دی. الله ج انسان داسې خلق کړی دی چې که د وجود یا بدن یوه برخه کې نیمګړتیا ولری، په نورو برخو کې یې استعداد اوچت وي. موږ خپل شاوخوا ډیر داسې کسان پیژنو چې له معلولیت سره سره د یوه کمال لرونکی وي، ډیر په پښو شل وګړي ډیر ښه خیاطان یا ساعت جوړوونکي او یا د نورو غوره وړتیاوو درلودونکي وي. ډیر یو لاس لرونکي خلک د مغازی ښه چلوونکي یا د هوټل ښه تنظیموونکي وي. لږ مخکې مو وویل چې بتهوون د موسیقی نابغه په غوږونو هیڅ هم نه اوریدل، خو شهکارونو ته یې اوس هم نړی او ټول بشریت ګوته په غاښ دی. ګوډ تیمور په نښه ویشتلو، آس ځغلولو او د لښکر رهبري کولو کی بیساری و. افغاني ټولنه په بېساري ډول مصیبتونو، جګړو او ناورین کې ګیره ټولنه ده، چې له بده مرغه په دغو پیښو او حوادثو کې هره ورځ ګڼ شمیر هیوادوال شهیدانیږي او یا د خپل خوږه وجود غړي له لاسه ورکوي او یا هم په طبیعی ډول ناقص الخلقه دي. یاني معیوبیت او معلولیت په هوسا ټولنو او عادی حالت کی هم تر سترګو کیږی، خو فرق دادی چې زموږ ټولنه کې معلولیت د جنګونو له امله ډیر لیدل کیږی. په همدې خاطر معیوبیت له معلولیت سره توپیر لری. معیوبیت یاني د یوعضو ناقص والی چې کیدای شي د یو وګړي له پیدایښت وخته همداسی ناقص اود ستونزو لرونکی وي، خو معلول بیا هغه څوک دی چې د یوه علت له مخی یې، پښه، لاس، سترګه یا بل عضو بایللی وي. په دواړو صورتونو کې معلولین اومعیوبین د ټولنی وګړي او د ټولو مدني حقونو او امتیازاتو مستحق دي او له دې جملې څخه د ښووني او روزنې، استخدام، کار کولو او ټولنیزو عادي اړیکو د ټینګولو حق لری.

په داسې شرایطو او حالت کې چې هیواد په دوامداره ناورین او جنګ کې ښکیل دی، افغان دولت او نړیواله ټولنه په ګډه باید د معلولینو د ژوند د اسانتیاوو لپاره ځانګړي تدابیر په پام کې ونیسي، له دې جملې څخه یو تدبیر دا هم دی چې معلولو او معیوبو افرادو ته د اقتصادی معیشت وسایل او ځانګړي مهارتونه او د استخدام فرصتونه برابر شي. د کار ځواک، د پلان جوړوني او د ترینګونو، ښووني او روزني برخه کې داسې مهارتونه له نورو څخه جلا او مشخص شي، چې د معلولو افرادو لپاره وي. اما ځیني داسې کارونه او دندې شته چې د یو شمیر معلولیت لرونکو وګړو لپاره یې اجازه نشته. لکه د سترګو یا یوه لاس معلول ته ممکن ترافیک لیسنس ورنه کړي. خو ډیر نور داسې مصروفیتونه او کارونه شته چې دوی په سمه توګه ترسره کولای شي.

په افغانستان کې تر اوسه په ټولو تولیدي ځانګو کې پرمختللي تکنالوژي نه ده معمول شوی، بلکې اوس هم لاسي کارونه ډیر دي، چې ښه عاید هم لري، لکه غالی اوبدل، ګنډل ، مستظرفه صنایع، باغواني، څوکیداري، په دولتي اداراتو کې کار، تجارت، خصوصي شرکتونو کې کاري فرصتونه، خطاطي او رسامي) چې هم یو شغل دی او هم هنر(موسیقی، د محاسبی چارې او داسی نور چې ممکن ډیر روغ کسان دې برخو کې استعداد او اړین لیاقت او دقت لرونکي نه وي. هغه حرفوي، تخنیکي او صنعتي ځانګې چې ډیر ښه عواید لري او معلولین یې ترسره کولای شي، باید مشخص او د معلولینو او معیوبینو لپاره ځانګړې شي. دغه قشر په ټولنه کې باید حاشیې ته پرېښنبودل شي. بلکې ډیره مهمه ده چې د دوی له استعداد او توانایی د جګړه ځپلي افغانستان د رغوني لپاره کار واخیستل شي.

موږ د صعنتي او طبي بوټو روزنه او له هغو څخه د پروسس شویو محصولاتو ډیر اوچت امکانات لرو، موږ لاسي صنعت لرو چې د توریزم د دلچسپی پوره وړتیا لري. موږ دراډیو، ساعت، برقي وسایلو او کمپیوټرونو د ترمیم لپاره ضرورت لرو، موږ د عکاسی چارې، د دفترونو یا ودانیو ددروازو څارنه او کنترول چې ډیر ګرځیدلو او دریدلو ته ضرورت نلري، بلکې صرف له یوه محل څخه د کنترول په شکل ترسره کیږی او دې ته ورته نورو برخو کې کار کوونکو ته اړتیا لرو. معلولین او معیوبین دغو ټولوبرخو او په ځانګړي ډول د معلوماتي تکنالوژۍ په ساحه کې کولای شي، چې دندې ترلاسه کړي.

که خدای کول افغانستان ته سوله راغله؛ نو دا هیواد به د کار ډیرې زیاتې نیرو ته ضرورت پیدا کړي. موږ په دې پوهیږو چې د امنیت او حکومتوالی په ښه کیدوسره زښت دیر تشبثات او دولتي او خصوصي کارونه پیل کیدونکي دي، چې بیا هغه وخت ممکن موږ د بشری ځواک له کمښت سره مخ شو. نو ډیره ضروري ده چې سر له اوس څخه په دې فکر کې اووسو او د معیوبو او معلولو هیوادوالو لپاره په ځانګړو ځانګو کې ترینینګ، ښوونه او روزنه او د مهارتونو اوچتول هیرنه کړو. د روسیې هیواد ډیر نامتو څیړونکي، د کار قهرمانان او کاشفین د میهني جنګ د دوران معلولین او معیوبین بولي. د پخواني شوروي اتحاد په ډیرو جمهوریتونو کې د کار اتلان زیاتره مهینی جګړې معلولین وو، دوی به په لویو ملي مناسبتونو کې له لکړې سره په داسي حال کې ځانګړي دریځ کې دتکریم او درناوي پر څوکیو کیناستل چې د اتلولی مډالونه به یې په ټټر ځلیدل.

د نړۍ تجربه ثابتوي چې د جنګونو د ورځو ناخوالې، له جنګونو وروسته د سولې په فضا کې د کار، خدمت او ویاړ په خوښیو بدلیږي او هیوادونه کولای شي ځان او خپل اتباع د نیکمرغۍ لورې ته سوق کړي؛ خو د دی ټولو لپاره تدبیر، پلانونه اومعقولې پالیسیانې په کار دي.

لیکوال: جمعه نور مجبور

سرچینې:


1. په اسلامي ټولنه کې د معلولینو حقوق او مقام، سلطان محمود صلاح، لومړۍ چاپ

2. AFGHAN GERMAN ONLINE

3. معلولیت از نظر دین مقدس اسلام، حبیب صبوری و خسرو شاهی